# د خپل ماشوم په زده کړه کې مرسته کول

## د هغه زده کوونکو د والدینو لپاره لارښود  چې انګلیسي د یو اضافه ژبې توګه (English as an Additional Language، EAL) کاروي.

## ولې باید دا ولولئ؟

دلته تاسو کولی شئ چې د لاندې موضوعاتو په اړه عملي نظریات ترلاسه کړئ:

1. د ښوونځي ژوند کې شاملیدل
2. د ماشوم سره په زده کړه کې مرسته کول

## 1.په ښوونځي ژوند کې شاملیدل

د بریتانیا ښوونځي له والدینو څخه غوښتنه کوي ترڅو د ښوونځي ژوند کې په فعاله توګه شامل شي او که چیرې په انګلیسي ژبه حاکم نه یاست یا کاري بوختیاوې لرئ، نو نوموړي ښوونځي له تاسي سره د مکتب په ژوند کې د شاملېدو لپاره مرسته وکړي.

**دلته یو شمیر نظریات شتون لري چې مرسته کولی شي:**




- ښوونځي ته ووایاست، که چیرې کوم متن مو داسې ومونډ چې پوهیدل پرې ستونزمن و، د بیلګې په ډول د ښوونځي لیکونه یا د ښوونځي ویبسایټ.
- د ښوونځي کارکوونکو ته ووایاست که چیرې دوی ډیرې چټکې خبرې کوي یا داسې کلمې کاروي چې تاسې پرې نه پوهیږئ. دلته ځینې مودبه عبارتونه راوړل شوي چې تاسې یې ددې کار لپاره کارولی شئ:
  - ایا کولی شئ  یو څه ورو خبرې وکړئ، هیله کوم؟
  - ایا بیا یې تکرارولی شئ؟ زه پوه نه شوم.
  - بخښنه غواړم، مګر ستا په خبرو بوه نه شوم. ایا کولی شئ بیا یې تکرار کړئ، هیله کوم؟
  - ایا کولی شې راته ووایئ چې______________څه معنی لر ي؟
  - ایا دغه کلمه بیا تکرارولی شې، هیله کوم؟ زه نه پوهیږم چې ددې معنی څه ده.
  - ایا کولی شئ په لوړ غږ خبرې وکړئ، هیله کوم؟ هغه څه چې تا وویل، وامې نه وریدل.



- ښوونځي ته ووایاست چې څه شی له تاسې سره مرسته کولی شي چې د ښوونځي په خبرو اترو په ښه توګه بوهه شئ، د بیلګې په توګه د خبرو اترو شفاهي ژباړه.



- چې تاسوسره اړیکه ونیول شي، او غوره د اړیکې شمېره



- ښوونځي ته ووایاست چې کوم وخت غوره دی

- که چېرې د کورنۍ کوم بل غړی مو په انګلیسي ژبه ښه پوهېږي او له مکتب سره په افهام او تفهیم کې مرسته کولی شي، نو مکتب ددې په اړه خبر ورکړئ

- له ښوونځي څخه د ښوونځي په اړه او ستاسي دماشومانو د زده کړي په اړه بوښتنه وکړئ. ددې معلوماتو ستاسي په ژبه د ژباړې غوښتنه وکړئ. تاسې باید د لاندې شیانو غوښتنه وکړئ:

  - د ښوونځي مهالویش
  - د خپلو ماشومانو کورنۍ دنده
  - ازمویني او ټسټونه (دې ته څیني وخت ارزوني هم ویل کیږي)
  - حاضري
  - نصاب او کلیدي مرحلې

- د هغه والدینو له ډلې سره یو ځای شئ چې ستاسې سره په ورته ژبه خبرې کوي. که چیرې ښوونځی داسې کومه ډله نه درلوده، نو د جوړولو غوښتنه یې وکړئ.

- د والدینو ماشامونو کې ګډون وکړئ. که چیرې تاسې د خپلې انګلیسي په فکر کې یاست، تاسې باید د یو ښوونکي سره د یو . په . یو لیدنې غوښتنه وکړئ ترڅو د خپل ماشوم د زده کړې په اړه خبرې وکړئ. که چیرې ژباړن شتون ولري، تاسې کولی شئ له ښوونځي څخه یې غوښتنه وکړئ.

## 2.څنګه کولی شئ د خپل ماشوم په زده کړې کې مرسته وکړئ

د بریتانیا ښوونځي له ماشومانو څخه تمه لري چې خپله کورنۍ دنده ترسره کړي او له والدینو څخه هیله لري چې ماشومان په کور کې زده کړې ته وهڅوي.

**دا چې څنګه کولی شئ له خپلو ماشومانو سره په زده کړه کې مرسته وکړئ، دلته یې په اړه یو شمیر نظریات شتون لري:**

- د خپل ماشوم له ښوونځي څخه د د کورنۍ دندې د پالیسي په اړه وپوښتئ، له دې سره تاسې پوهیدای شئ چې ښوونځی څه تمه لري، او ترې وروسته له خپل ماشوم سره د کورنۍ دندې په ترسره کولو کې مرسته کولی شئ:

- ددې لپاره چې له خپلو ماشومانو سره په کورنۍ دنده کې مرسته وکړئ:
  - پوښتنې ترسره کړئ او د هغه موضوعاتو په اړه خبرې وکړئ چې ستاسې په ژبه مطالعه شوي دي
  - خپل ماشوم وهڅوئ چې دوه ژبني قاموس وکاروي ترڅو کلمې وژباړي
  - خپل ماشوم وهڅوئ چې نوي کلمات په انګلیسي کې او/یا په خپله لومړنۍ ژبه کې ولیکي ترڅو له دوی سره په یادولو کې مرسته وشي
  - خپل ماشوم وهڅوئ چې له ښوونکي څخه پوښتنه وکړي کله چې په کوم څه پوهه نه شو

- خپل ماشوم سره په کور کې لوست ترسره کړئ. تاسې کولی شئ دا په خپله مورنۍ ژبه کې ترسره کړئ او د انځورونو په اړه خبرې وکړئ او هغه څه چې په کیسه کې ترسره کیږي. له لویو ماشومانو سره تاسې کولی شئ دوی ته غوږ شئ، ترڅو دوی خپله کلمات ولولي او له هغوی څخه د هغه کلماتو په اړه چې پرې نه پوهیږي، د فکر کولو غوښتنه وکړئ چې څه معنی لري. دا ویبسایټونه په ګڼ شمیر مختلفو ژبو کې کیسې لري او وړیا دي: د نړۍ کیسې او د سواد لپاره اتحاد (World Stories and Unite for Literacy)

- ټولګې سره یو ځای شئ ترڅو انګلیسي مو ښه شي. یو شمیر ښوونځي د والدینو لپاره د انګلیسي ټولګې وړاندې کوي، بوښتنه وکړئ که چیرې شتون ولري. تاسې همدارازکولی شئ چې د ESOL ټولګې په خپل سیمه یز لوړو زده کړو کالج کې ومومئ. که چیرې تاسې نه غواړئ ټولګې کې ګډون وکړئ، یا غواړئ په ازاده توګه زده کړه ترسره کړئ، تاسې کولی شئ د دبریتانوي شورا څخه په وړیا ډول انګلیسي عملي تمرین ترلاسه کړئ.


### د چاپ حقوق

ټول حقوق خوندي دي. ددې خپرندوی هیڅ برخه په هیڅ شکل کې باید بیا ځل تولید نشي (د فوتوکاپي کولو یا په الکترونیکي طریقو په کومې بڼې د ذخیره کولو او یا په اتفاقي یا غیر اتفاقي ډول له دې چاپ څخه د نورو مقصدونو لپاره ګټه پورته کولو په ګډون) پرته د کاپي رایټ مالک له لیکلي اجازت څخه. ددې چاپ د کومې برخې د بیا چاپ لپاره د چاپ د حقوقو مالک لیکلې اجازې غوښتنه باید خپله له مالک څخه وشي.

د چاپ حقوق© د بیل تعلمي خیریه شرکت (د بیل بنسټ تر عنوان لاندې فعالیت کوي)

د بیل تعلمي خیریه شرکت د تضمین له 1048465 شمېرې سره یو خیریه شرکت دی، چې د 1972 میلادي کال د اپریل په 5 نیټه تاسیس شو، د خیریه کمیسون سره په 311585 شمېره ثبت شوی دی.



د بیل بنسټ
هیلزکراس (Hillscross)
ریډ کراس لین کیمبریج
Red Cross Lane)
(Cambridge CB2 0QU

www.bell-foundation.org.uk